# Lyrical Charm of Andish Shamsul Qammar's Ghazals
# د اندېش شمس القمر د غزل تغزلي ښُکلا

Muddasir Ahmad Yousafzai*
Dr. Asal Marjan(Muhib Wazir)**

**Abstract:**

Andish is born in 1933 in Mardan, village Mayar. He is considered as one of the patrons of modern Pashto ghazal. Ghazal and lyricism are interdependent with each other. Lyricism is considered as the beauty of ghazal. Lyricism and ghazal are so deeply interrelated as fragrance is related to a flower, the flower is deemed as good for nothing if it is without fragrance.

The study and charm of lyricism in the ghazal of Andish Shamsul Qamar is presented in this article, which has bestowed on individuality to the ghazal of Andish Shamsul Qamar.

**Keywords:** Andish Ghazal, Lyricism, Modern, Individuality, Charm

د اندېش شمس القمر لنډه شان پېژندګلو:

د مردان ضلعې مشهور کلي مايارو کښې د عمر خان بابا په کور کښې يو ماشوم پېدا شو، پلار پرې نوم شمس القمر کښېښود او وروستو په ادبي دنيا کښې د اندېش شمس القمر په نامه ياد شو. د اندېش د زېږون نېټه محترم نورالبشر نويد ۱۹۳۴ء ښودلې ده. (۱) دغه رنګ ښاغلي همېش خليل هم خپل کتاب " پښتانۀ ليکوال" کښې د اندېش د زېږون نېټه ۱۹۳۴ء يادوي. (۲) د اندېش شمس القمر د زېږون صحيح نېټه ۲۰ اکتوبر ۱۹۳۳ء ده، دا نېټه د اندېش په شناختي کارډ، داخله خارج او نورو تعليمي اسنادو کښې ليکلې شوې ده او د قبر په کتبې هم د زېږون دغه نېټه درج ده.

اندېش شمس القمر زما د مطالعې تر مخه د پښتونخوا هغه وړومبے شاعر دے چې تخلص خپل نوم نه وړاندې ليکي. دې لړ کښې ځيني محترم ليکوالان تېر وتي دي. ډاکټر عابدالله جان عابد

---

* M.Phil. Scholar, Bacha Khan Studies Centre Bacha Khan University Charsada
** Director, Bacha Khan Studies Centre Bacha Khan University Charsada

"پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ" نومې کتاب کښې شمس القمر اندېش لیکلے دے ـ (۳) محترم همېش خلیل " پښتانۀ لیکوال " (دوېم ټوک) کښې شمس القمر اندېش نامه ذکر کړې ده.(۴) د اندېش د قبر په کتبه هم شمس القمر اندېش نامه لیکلې شوې ده، چې صحیح نۀ ده ـ دې نه علاوه په اروابناد اندېش د پېښور پوهنتون نه د پاکستان سټډي ډیپارټمنټ یوې زنانه بشری ' رحمان د ایم اے په کچ مقاله لیکلې ده چې دوي هم شمس القمر اندېش نامه لیکلې ده ـ (۵) د اندېش خپل نوم شمس القمر دے،تخلص ئې اندېش دے او خپل پوره نوم اندېش شمس القمر لیکي ـ " فخرِ افغان" او " پېمانه د غزل" چې د اندېش شعري مجموعې دي،دواړو کتابونو باندې اندېش شمس القمر نامه لیکلې شوې ده ـ دې نه پس باید چې د دوي نوم اندېش شمس القمر ولیکلے شي ـ

تر کومه حده چې د اندېش د تعلیم خبره ده نو اندېش ثوارلسم د پنجاب پوهنتون نه پاس کړے وۀ ـ د تعلیم نه پس اندېش کاروبار ته لاس واچولو ،اول ئې د سبزو او مېوؤ کار کولو بیا ئې د ګوړې کار شروع کړو او اخره کښې ئې د ساهو دارو دُکان (مېډیکل سټور) پرانستو ـ

اندېش د ژوند اخري شپو ورځو کښې د زړۀ رنځور وۀ ـ په ژوند کښې ئې څۀ نور ارمانونه نۀ وو خو دې ارمان تور لحد ته یوړو چې د پښتنو سیمه دې ښېرازه شي،پښتون قام دې د نورو قامونو سره سیال شي او پښتو ژبه دې داسې شته منه او ودانه شي چې په ټوله نړۍ کښې ئې چرچې وي هم دې ارمان اندېش ارماني کړو. (۶) د پښتو ژبې بلبل اندېش شمس القمر په اتم مارچ ۲۰۱۵ء (۱۴۳۶ هجري کال) د اتوار په ورځ د فاني دنیا نه د همېشه د پاره کډه ونغاړله ـ

د اندېش شمس القمر د غزل تغزلي ښُکلا:

تغزل د غزل ښائست او سرخښې کولو ته وائي،دې ته په انګریزۍ کښې (LYRICAL) وئیلے شي ـ تغزل یوه خالصه شعري اصطلاح ده،په شاعرۍ کښې د ښائست پېدا کولو د یو خاص اثر پېدا کولو نوم دے ـ تغزل په مثال داسې دے چې لکه ګل سره خوشبو لازم و ملزوم ده،څۀ رنګ چې ګل بې خوشبو ګل نۀ پاتې کېږي،دغه شان غزل کښې که چرې تغزل نۀ وي نو بیا ورته غزل وئیل نامناسبه ده ـ غزل کښې چې څومره شدت،خلوص شائستګي برجستګي موجوده وي هومره به تغزل څرګند وي ـ د محبوب د خال وخط،د

سترګو، ښو، زلفو، رخسارو، ناز و اداګانو، وفا و جفا، هجر و صال، د عشق جنونيت اضطراب چې د کومو اړخونو عکاسي کوي، کوم کېفيات پېدا کوي نو مونږ ورله د تغزل نوم ورکوو. (۷) د دې د اظهار د پاره د بېلا بېلو لفظونو، علامتونو، تشبيهاتو، استعاراتو، اشارو، کنايو په ذريعه غزل کښې شاعري کېږي، دغه عناصر چې کوم ذکر شوو دا که په غزل يا بل صنفِ سخن کښې هم که موجود وي نو دې مجموعي تاثر ته مونږ د تغزل نامه ورکولے شو. خو دا ده چې غزل سره د تغزل خاص رشته ده. ضروري نۀ ده چې د غزل نه علاوه نورو صنفونو کښې دې هم تغزل وي. (۸)

شلمه صدي يوه ډېره غوريزه پېړۍ يادېږي خصوصاً مونږ که د ادب په حواله ګورو نو نوي نوي صنفونه دې پېړۍ کښې متعارف شوي دي که زاړۀ صنفونه هم وو نو نوے رنګ او انداز ئې خپل کړے دے. اندېش شمس القمر هم دې صدۍ سره تعلق لرلو. اندېش په هاغه زمانه کښې غزل ليکلے دے چې دغه دور کښې د غزل ډېر لوي لوي شاعران او استاذان موجود وو لکه د مثال په توګه حمزه بابا، خاطر اپريدے، قلندر مومند، قمرراهي، عبدالرحيم مجذوب، ګران بابا، سيف الرحمان سليم او داسې نور. ياده دې وي چې اندېش نظمونه هم ډېر ليکلي دي، تر دې چې يو کتاب ئې "فخرِ افغان" د نظمونو مجموعه هم چاپ ده. دې نه پرته "پېمانه د غزل" نومې مجموعه کښې ئې هم نظمونه موجود دي خو اکثر نظمونه ئې د غزل په زمکه ليکلي دي. په بنيادي توګه اندېش شمس القمر د غزل شاعر وۀ. غزل چې دوي په کوم انداز سره ليکي يا ئې کوم جدت رنګ خپل کړے دے، د غزل اندازِ بيان ئې څومره برجستګي نغمګي لري څکه خو ډاکټر اسرار صيب ليکي:

> "چې د حمزه بابا د غزل نه پس چې د کوم شاعر غزل زيات
> شمېر اديبان، شاعران، په شعر پوهېدونکي شعر
> پېژندونکي څان ته متوجه کړي دي هغه اندېش دے." (۹)

د اندېش شمس القمر څانګړتيا دا ده چې د غزل غوندې مخصوص صنف کښې د دوران غمونه، کشالې، د ژوندانۀ خوږې او ترخې خبرې، په غزل کښې داسې هنر فنکارۍ سره څائے کړي چې د غزل ښائست ئې له سېوا شوے دے. شاعري ئې خوندوره ده، په غزل کښې ئې غنائيت موسيقيت هم ډېر دے. دې سره سره ئې شاعري ډېره مؤثره هم ده او د سوز و ګداز

سره سره ئې د غزل د فني لوازماتو ډېر خيال ساتلے دے غزل ئې په نوي رنګ،نوي انداز د اختصار سره سره دلسوزه او پُرسوزه انداز کښې وړاندې کړے دے۔ اندېش د غزل په روح صحيح معنيو کښې پوهه وۀ،هغه د غزل کړۀ وړۀ،فني لوازماتو نه ډېر ښۀ خبر وۀ۔ د هغۀ غزل که د تخيل لوړوالې لري نو د تغزل سينګار هم لري۔ محترم سليم راز د اندېش د غزل کړۀ وړۀ،مزاج په حواله خپله رايه څۀ په دا ټکيو کښې څرګندوي:

> "اندېش شمس القمر يو ډېر ساده باده انسان دے،شعر ئې هم د سادګۍ يوه ښکلې نمونه ده۔ کليوال ماحول،پښتني روايات او سوچه ژبه ئې د احساس او شعور نمائندګي کوي،خو په رواياتو کښې منجمد شوے نۀ دے بلکې رواياتو ته ئې د جدت يو نوے خوند او رنګ وربخښلے دے او زاړۀ پښتني روايات ئې په خپل فن او تخليقي جديد فکري رويو کښې منعکس کړي او ژوندي ساتلي دي او يو نوے معنوي چوکاټ کښې ئې د يو آرټ او کرافټ په ښکلا خپل مخصوص لساني تشکيل سره ورته د قدامت او جديدت په امتزاج يو نوے روح بخښلے دے چې محسوسېدے خو شي ولې بيانېدے نۀ شي۔" (۱۰)

د غزل ژبه روانه،ساده او عام فهمه پکار ده۔ د ژبې رواني،سادګي،د بيان بې تکلفي د شاعرۍ کالې نه بلکې روح دے۔ (۱۱) د شاعر دا فرض جوړېږي چې هغه دے د خپل چاپېرل ژبه خپله شاعري کښې استعمال کړي هغه ژبه يا هغه لفظونه راوړي چې هغه ټکي يا لفظونه نامانوس نۀ وي۔ (۱۲) که چرې شاعر تخليقي جوهر لري نو هغه داسې ټکي چې هغه شاعرانه نۀ هم وي دومره معنويت سره ئې خپله شاعرۍ کښې وړاندې کړي چې د کمال تر انتها وي،بل اړخ ته که چرې دے تخليقي جوهر نۀ لري نو ښائسته او شاعرانه لفظونو کښې به معنويت پېدا نۀ کړي شي۔ (۱۳)

اوس که مونږ د دغه تعريفونو په رڼا کښې د اندېش د غزل ژبه ګورو نو ژبه ئې ساده، روانه، عام فهمه ده۔ هغه دومره روانه ساده انداز کښې غزل وئيلے دے چې لغت ته ضرورت نۀ پېښېږي بل د خپل چاپېرچل ژبه ئې خپله کړې ده او په غزل کښې نوې جدت راوستے دے،د

چا اثر ئې نۀ دے قبول کړے بلکې ځان ته ئې نوې لاره ټاکلې ده ښل دا چې د ښۀ غزل د پاره یو بنیادي شرط د ښائسته لفظونو انتخاب کول دي ـ که مونږ د اندېش په غزل کښې ډکشن(Diction) یعنې لفظونو ته ګورو نو هغوي ته دا چل ډېر ښۀ ورتلو په ډېره سلیقه مندۍ سره ئې خپل غزل کښې د لفظونو استعمال کړے دے ـ داسې نامانوس ټکو نه ئې ځان ژغورلے دے کوم چې تغزل ماتوي د غزل ښائست بدرنګوي ـ د غزل په نازکه ګرګه ئې که زیږ لفظونه هم راوړي دي خو په داسې رومانوي رنګ انداز کښې چې تغزل ئې برقرار ساتلے دے ـ لکه ایاړه،دوړه،دښته، دشته، غړوسکې، سیورے،کټورې،کنډر، وندر،ډنډر،باړۍ،بڼ، ونډ،بوړنېدل،ګونېدل،تلپدل او داسې نور ټکي ئې خپله شاعرۍ کښې راوړي دي چې د غزل سینګار ئې پرې له سپوا شوے دے ـ دلته د اندېش په دغه حواله انتخاب څو شعرونه وړاندې کولے شي :

منم چې دشته د بېلتون ده خو چې تا یادوم
د سپرلي دوړه مې د خیال په اننګو پرېوځي(۱۴)

اوس مې په خلۀ کښې د دې وخت د محبت ژبه ده
ما له د ځانه سره یاره ګونېدل نۀ راځي(۱۵)

ستا ښکلا ستا رنګونه ستا نصیب
زۀ دې د یادونو په بڼ ناز کړمه(۱۶)

ترکیب په خصوصي توګه د وړاندې نه موجود دوه تورو یا ټکو نه راجوړېږي چې دغه دوه توري خپلو کښې رایو ځائے شي نو د ترکیب شکل ومومي خو دا دواړه توري چې رایو ځائے شي نو نوې معنیٰ ورکوي ـ د دوۀ بېلا بېلو تورو یو ځائے کېدو ته مرکب وئیلې شي خو کله د مرکب دواړه توري معنیٰ دار وي کله بیا یو معنیٰ دار وي بل بې معنیٰ وي ـ هم دغسې د معنیٰ په لحاظ د مرکب قسمونه دوه کېدے شي یو هغه چې مکمله معنیٰ لري او دواړه توري ئې معنیٰ دار وي او دوېم هغه مرکب چې یو توری ئې معنیٰ دار وي د دوېم معنیٰ مهمله وي ـ (۱۷)اندېش خاصه دا ده چې هغوي خپل غزل کښې نوي نوي ترکیبونه راوړلي دي،چې ډېر ناویاته او ځانګړي محسوسېږي ـ لکه خیالستان،زارستان، نخلستان،ګل درې،ګلفام،ګلخانه،ګلچین،ګلبدن،ګل اندام، د خیال څانګه،ارمان غندل،د یادونو

ګلدستې، د خيال په سيوري، د جمال په سيوري،د وصال په سيوري،د تال په سيوري،د کال په سيوري،د جال په سيوري،د پال په سيوري،د ګل په کټوري کښې،د فنا په کټوري کښې، ځنګل خپله، جمال اباد، ګلفروشه، قتل ګاه، ګلبدن، شبخون،حسن پرستي،زړۀ راښکون،رفيع الشان،عظيم الشان او داسې نور۔ دلته دغه ترکيبونو څو نمونې وړاندې کولے شي:

چې يار له ګل هم د دُکان د ګلفروشه لېږي
ځار د دې دور د مئينو د روزګاره شمه(۱۸)

دلبره دا يادونه د مئينې زندګۍ ستا
خوارۀ دي که تراخۀ دي خيالستان مې پرې اباد دے(۱۹)

جوړ بيا چرته ګلچين چاړۀ د ګل په مرۍ کېښوه
په زړۀ باندې مې لګي نن وړمې ازغي ازغي(۲۰)

ماله راوړي تل د ازغو ګلدسته
دا په ما سود د ګل اندام کېږي(۲۱)

د محبوب ستائينه يا عشقي واردات هم د تغزل خاصيت دے۔ غزل په بنيادي توګه د مينې و محبت سره تعلق د ابتداء نه لرلو،وړومبۍ موضوع ئې د ښځو سره خبرې کول د هغوي سره د مينې واردات بيانول وو،بيا پکښې وروستو د خدا ے سره مينه،وطن سره مينه،د قام سره مينه، تصوف عن دا چې هره موضوع غزل ته راننوته د غزل نازک صنف کښې پراختيا راغله خو ولې تغزل له هغسې برقرار دے۔ خو د محبوب د خال و خط،سترګو باڼو،زلفو،رخسارو،ناز و ادا،وفا جفا، هجر و صال تذکرې پکښې اوس هم کېږي چې د دغه کېفيت يا تاثر نوم ته تغزل هم وئيلے کېږي،دلته د اندېش هاغه شعرونو باندې اکتفا کوو چې پکښې ئې د محبوب ستائينه او عشقي واردات بيان کړي دي:

زۀ که ډېر وږے يم د مينې تۀ اسراف مۀ کوه
بس يو نظر د محبت راکتل خوند کوي(۲۲)

منم چې دشته د بېلتون ده خو چې تا يادوم
د سپرلي دوره مې د خيال په اننګو پرېوځي(۲۳)

په ما مېچن د محبت جوړ اړولے ګرځي
د انتظار وخته قسم دے تهٔ ډېرېږې چې ځې(۲۴)

وړاندې دا خبره ذکر شوه چې د غزل خصوصياتو کښې سلاست،غنائيت،جذبه،درد و سوز اختصار،برجستګي د طرزِ ادا حسن بنيادي حېثيت لري چې هم د دې په واسطه غزل کښې تغزل پېدا کېږي۔ د اندېش غزل کښې سلاست يعنې اساني،رواني نغمګي ډېره جوته ده هغه که د دوران خبرې وي که نور د ژوندانهٔ تذکرې وي نو اندېش د لوړو مفاهيمو سره سره ډېر په روان،اسان او عام فهمه ژبه کښې د هغې اظهار کوي،دې سره سره د دوي غزل د غنائيت موسيقيت نه هم لبريز دے او د معنويت ښکلا هم لري۔ د اندېش غزل د اختصار خوبي هم لري غزل چې څومره اختصار ولري نو دومره خوندناک او اثرناک وي۔ ځکه چې نظمونه اوږدهٔ وي۔ غزل کښې د اختصار نه کار اخستلے شي۔ دلته د اندېش ځيني شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کولے شي چې د سلاست،غنائيت،برجستګي،لطافت و نزاکت،شيرينيد طرزِ ادا حسن، درد و سوز د اختصار خوبيانې لري:

نن خو داسې کار کوم
ځم ديدن د يار کوم
څه اوس ستا په خوښه ده
بيا به خپل اختيار کوم
څوک دې په دې لور راشي
زهٔ ئې انتظار کوم(۲۵)

وي به ښائسته به ئې د سپرلي ګلبدن
خو ستا نظر خو ستا جواب به نهٔ وي
کله منم چې د احساس بندګان
ژوندي به وي او په عذاب به نهٔ وي

که غم غلط شي لږ د دړد د احساس
چرته منګې چرته رباب به نۀ وي(۲۲)

څنګه دې احساس د محبت راکړو
هر څوک درته یاد او زۀ دې هېر شومه
چپ شه ستا ښائست خو د زور کلے وۀ
ډېر که مې ترې ځان ساتۀ خو ګېر شومه
نوره به د ګل ساتنه څۀ راتله
زۀ لکه خوشبو ترې نه چاپېر شومه(۲۷)

تشبیه د علم بیان یو اهم رکن دے ـ خپله خبره یا خپله مدعا په ښائسته انداز کښې د وړاندې کولو د پاره یو څیز د بل په شان ګرځول چې لوستونکي پرې په اسانه په ښۀ ډول پوئې شي،دې اظهار ته تشبیه وئیلے شي ـ (۲۸) د طوالت له وېرې د تشبیه د ارکانو،قسمونو ورکولو نه دلته ډډه کولے شي د اندېش د څو شعرونو نمونې وړاندې کولے شي چې د تشبیه استعمال ئې په ډېر هنرمندۍ سره کړے دے:

داسې په کټ کښې ستا د غم د مشقته پرېوزم
لکه دهقان چې ستړے کور ته د خپل کاره راشي(۲۹)

دې شعر کښې اندېش دا خبره کوي چې زۀ د خپل محبوب د غم د وجې داسې ستړے يم لکه څۀ رنګ چې يو زمېدار د کار نه کور ته راشي او ستړے وي ـ يعنې خپل ستړي والي له ئې د يو دهقان سره تشبيه ورکړې ده، حقيقت کښې هم زمېدار چې کله پټي نه واپس راشي نو ډېر ستړے وي ـ اندېش دا څرګندوي چې داسې زۀ هم د محبوب د غم د وجې ډېر ستړے يم ـ

دلبره ستا د مينې په يادونو کښې ژوندون
کوي لکه ګلونه په رنګونو کښې ژوندون(۳۰)

دې شعر کښې د مينې ياد له د رنګونو سره ژوند له د ګلونو سره تشبيه ورکړې شوې ده ـ اندېش دا وېنا کوي چې د محبوب په يادونو کښې ژوندون داسې دے لکه څۀ رنګ چې ګلونه په رنګونو کښې ژوند کوي ـ

ماته لکه حورې د جنت سندرې وائي
لګیا چې مې د مینې وي خوبان په پښتو ژبه(۳۱)

دې شعر کښې اندېش د مینې خوبانو له د جنت حورو سره تشبیه ورکړې ده. دا وېنا کوي چې زما د مینې خوبان چې کله ماسره پښتو ژبه کښې خبرې کوي نو یو خو خوبان هسې هم ښائسته وي بل چې پښتو ژبه وائي نو دا داسې ده لکه چې د جنت حورې راته سندرې وائي.

اول ئې زلفې کړې خورې بیا ئې راوړؤ مخ
ما وې چې څنګه په ماښام سحر ته ورسېدم(۳۲)

اندېش دې شعر کښې د زلفو د تور والي په وجه د ماښام سره او مخ له د سحر سره تشبیه ورکړې ده.

استعارې په حواله دا وئیلے کېږي چې یو ټکے په مجازي معنیو کښې داسې استعمال شي چې د هغې ټکي د مجازي او حقیقي معنیو تر مینځه د تشبیه تعلق وي نو هغې ته استعاره وئیلے شي. (۳۳) اندېش هم ځیني شعرونو کښې د استعارې استعمال ډېرښۀ انداز کښې کړے دے لکه دا شعر ئې ولولئ:

ما د تیارو نوغے د هېڅ ځایه هم ونۀ وېستۀ
وم به په نوم شمس و قمر خو روښان نۀ ومه زۀ(۳۴)

دلته تیارې د جهالت د پاره استعاره راوړلې شوې ده. یا دا شعر ئې وړاندې کولے شي:

ماله راوړې تل د ازغیو ګلدسته
دا په ما سود د ګل اندام کېږي(۳۵)

دې شعر کښې د ازغیو ګلدسته استعاره راوړلې شوې ده، مراد ترې دردونه او تکلیفونه دي. ګل اندام د محبوب د پاره مستعار راوړلې شوې ده.

دې نه علاوه اندېش د غزل د ښائست د پاره بېلا بېل صنعتونه راوړي دي لکه د نمونې په توګه مراعات النظیر، لف و نشر مرتب لف و نشر غیر مرتب.

د صنعت مراعات النظیر په حواله د اندېش یو شعر وړاندې کولے شي:

ماحول جوتې جوتې،اودۀ اودۀ،نشه نشه شو
ښکارېږي انتظاره چې جوړ وغزېد اشنا(۳۶)

لف و نشر مرتب د لف و نشر هاغه قسم دے چې وړومبي څو څيزونه ذکر شي او بيا ورپسې د نورو څيزونو ذکر هم په هغه ترتيب وار وکړے شي۔ (۳۷) د اندېش دا شعر ولولئ:

نۀ په ما مرګ د دلبر سود نۀ ئې ژواک دے پېرزو
نۀ د انکار په طرف ځي نۀ د اقرار په طرف(۳۸)

د صنعت لف و نشر بل قسم لف و نشر غېر مرتب دے۔ دې قسم کښې د لفظونو ترتيب هم نۀ وي خو دا لفظونه د يو بل اپوټه هم نۀ وي او نۀ مرتب وي بلکې بې ترتيبي پکښې وي۔(۳۹) دې لړ کښې د اندېش يو شعر وړاندې کولے شي:

دغه راوښودل د شمعې د ګل نظارې
ژوند په خندا باندې تېرېږي په سلګو باندې هم(۴۰)

په کلام کښې يا په شعر کښې يوه تاريخي واقعه راوړل يا ورته اشاره کول صنعتِ تلميح بللے شي،د اندېش په کلام کښې ځيني شعرونه وړاندې کوم چې د صنعت تلميح استعمال پکښې شوے دے:

سينو کښې که موجزنې وې جذبې د صداقت
درياب به د موسیٰ په شان لار راکړي چې ورشو(۴۱)

دا دې باچائي د محبت واخله
څوک پکښې محمود څوک اياز کړمه(۴۲)

چې مينه کښې خليل غوندې انګار کښې نۀ اودرېږي
هغه دې د مئينو په قطار کښې نۀ اودرېږي(۴۳)

په کلام يا شعر کښې د متل استعمال ته په ادبي اصطلاح کښې صنعت ارسال المثل وائي۔ اکثر شاعران د کلام د ښائست کولو د پاره متلونه راوړي۔ اندېش هم د متلونو استعمال په ډېر مؤثر انداز کښې کړے دے چې څو شعرونه ئې د نمونې په توګه وړاندې کولے شي:

لاس ازاد د رقيبانو هواګانو
زۀ ولاړ لکه د غر د ګل په شا يم(۴۴)

يو به وې بل ته چې تۀ کوز شه ټټو ماله راکړه
په خپلو پښو د خدا ے د پاره ګرځېدونکي نۀ تلۀ (۴۵)

انديش خپل کلام کښې محاورې ډېرې راوړلې دي، دلته ئې څو شعرونه وړاندې کولے شي:
زۀ د حالاتو سره دا دے سپينوم خبرې
لړه ايساره کړئ لېواله زمانه د غزل(۴۶)

خبره سپينۆل محاره ده. مطلب ئې خبره روغول،خبره پاکول ده.
ما د تيارو نوغے د هېڅ ځايه هم ونۀ وېستۀ
وم به په نوم شمس و قمر خو روښان نۀ ومه زۀ(۴۷)

دې شعر کښې انديش نوغے وېستل محاوره استعمال کړې ده چې مطلب ئې د يو څيز بنياد ختمول دي.
دا د هر ګل د مخه ګورئ چې ايرې چڼېږي
چا دي وراتۀ کتلي د ګل زار په طرف(۴۸)

دې شعر کښې ايرې چڼېدل محاوره راوړلې شوې ده چې معنیٰ ئې سپېرۀ کېدل دي.
ما مئېن ته د ماښو خبرې مۀ کړئ
محبت په کښې د سپي د لکۍ خوار دے(۴۹)

دلته د سپي د لکۍ خوار محاوره راوړلې شوې ده چې معنیٰ ئې ډېر زيات غريب کېدل ده.
په مجموعي توګه انديش د غزل روايت نور هم مستحکم کړو،غزل ئې د نوې لب و لهجې سره سره د خوږو لطيفو احساساتو نه برجق کړو. انديش پښتو غزل کښې نۀ صرف د دوران تذکرې کړې بلکې غزل کښې ئې رنګا رنګ مضامين په ډېره هنرمندۍ سره ځائے کړے دے. د انديش غزل د پښتون قام يوه داسې آئينه ده چې هر چا ته پکښې خپل ځان ښکارېږي. انديش د ژوند ترجمان شاعر دے،هغه غزل کښې د مزدور او مظلوم خبره کړې ده،د ژوند سندرې ئې وئيلې دي. يو داسې جمال آباد ئې جوړولو چرته چې مينه بس مينه وي،انصاف

وي،ظلم نۀ وي۔ انسانيت وي۔ خپل غزل کښې ئې د پښتون قام او پښتو ژبې د ښېرازئ او ودانئ نۀ صرف وېنا کړې ده بلکې دوي شعوري کوششونه هم کړي دي۔ لکه څۀ رنګ چې نور شاعران د حسن و عشق موضوع ستائيلې ده دغه رنګ اندېش هم د حسن و جمال تذکرې په ډېر روماني رنګ کښې بيان کړي دي۔ خو دغه ټول موضوعات اندېش د غزل په نازک وجود کښې داسې رانغښتي دي چې نۀ خو په اورېدونکيو بوج کېږي او نۀ ترې پروپېګنډه جوړه شوې ده ۔ اندېش د غزل د پاره ژبه که هر څو روانه،ساده او عام فهمه خوښه کړې ده خو د تخيل د بلندو نه پرېوتے هېڅکله نۀ دے او نۀ داسې متروک يا ناخوښه ټکي ئې راوړي دي چې د تغزل خلاف وي۔ بل اهم څيز د غزل د پاره خپله لاره ټاکل دي ځکه چې هاغه شاعران د خپل مرګ نه پس ورک شي چې خپل اسلوب ئې نۀ وي،اندېش په دغه حواله انفراديت په دې وجه لري چې دوي خپل اسلوب او د غزل ئې خپل انداز دے،څۀ رنګ چې ذکر وشو چې دوي نوي نوي ترکيبونه راوړي دي،هاغه لفظونه چې د پښتو ژبې خپل سوچه لفظونه وو او د مختلفو ژبو د اثراتو د وجې استعمال ئې کم شوې وۀ نو اندېش ډېر ښۀ انداز کښې د دغه لفظونو نه کار اخستے دے۔ ځيني خبرې وړاندې ذکر شوې چې دلته ترې تکرار جوړېږي۔ په مجموعي توګه اندېش د شلمې صدئ يو معتبر نوم دے چې د پښتو ادب په حواله بيا په خصوصي توګه د غزل په حواله ډېر ياد دے،يو خو دا چې د غزل ئې خپل رنګ،انداز او طرز دے بل دا چې په غزل ئې فني ګرفت ډېر مضبوط دے، هغه که هره موضوع بيانوي نو د غزل د فني لوازماتو هم ئې خيال ساتلے دے۔

# References


1. Naveed,Noor ul Bashar, Ay Andesha Marg Melma dy, Mashmoola : Da Andesh Yad, Kabul Afghanistan,kal 1394H,makh84.
2. Hamish Khalil,Pukhatana leekwal,Dwym Tok,Peshawar,University Publishers,2011,makh75
3. Abid,Abdullahjan,Pashto zuban o adab ke mukhtasar tarikh,Peshawar,University publishers,2001,makh237
4. Hamish Khalil,Pukhatana leekwal,Dwym Tok,Peshawar,University Publishers,2011,makh75
5. Bushra Rahman,SHAMS UL QAMAR ANDAISH Life and works, Pakistan Study Center, University of Peshawar, Season 2014-2016,P .No : 28
6. Shawq,muhebUllah,Hagha Andesh, Mashmoola: Leekwal,myashteeny, Mudeer: Noor ul Bashar Naveed, Peshawar,jeld 23,gana 4,April 2015,makh 36.
7. Mujtaba Husain,Tahzeeb o tahreer, Karachi, rabenson road, maktab afkar, makhoona 113 to 120.
8. Hamdagha, makhoona, 120, 121.
9. Dr Israr, Da Andesh da Ghazal infradyat, Mashmoola: Andesh Shamsul Qamar,Paymana da ghazal, mardan, olasi adabi tolana, September 2015,makh 21.
10. Saleem raz, Andesh yo qowm parastshayer, Mashmoola: pasoon dwa myasheny, Mudeeran: Dr Israr, Hazrat Zubair Zubair,Mardan,jild 6,gana 3,April 2011,makh 21.
11. Abdullah,Sayed,Dr,Isharat e Tanqeed, Lahore, Maktaba Khayaban Adab, dwym edition, september1972,makh 83.
12. Jamil Jalibi, eliet k maameen, Karachi,Javed press, pehli edi,may1960,makh 93.
13. Wazir Agha, naye Maqalat, Lahore, isteqlal press, pehli edition,feb 1973,makh 13.
14. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 245.
15. Hamdgha, 291.
16. Hamdgha, 256.
17. Sohail, bukhari, Dr, Tashreehi lesanyat, Karachi, 1998, makh 147.
18. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 245.

19. Hamdgha,makh 191.
20. Hamdgha,makh 155.
21. Hamdgha,makh 84.
22. Hamdgha,makh 305.
23. Hamdgha,makh 243.
24. Hamdgha,makh 145.
25. Hamdgha,makhoona 93,94.
26. Hamdgha,makhoona, 156,157.
27. Hamdgha,makh 242.
28. Yosafzay, Mushtaq Majrooh, Zarkany, Qalandar Momand reseach cell,5th edition,2018,makh 33.
29. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 381.
30. Hamdgha,makh 225.
31. Hamdgha,makh 427.
32. Hamdgha,makh 449.
33. Yosafzay, Mushtaq Majrooh, Zarkany,makh 52.
34. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 74.
35. Hamdgha,makh 84.
36. Hamdgha,makh 99.
37. Yosafzay, Mushtaq Majrooh, Zarkany,makh 227.
38. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 69.
39. Yosafzay, Mushtaq Majrooh, Zarkany,makh 229.
40. Andesh, Shamsul Qamar, Pyman da ghazal, makh 85.
41. Hamdgha,makh 161.
42. Hamdgha,makh 257.
43. Hamdgha,makh 187.
44. Hamdgha,makh 261.
45. Hamdgha,makh 314.
46. Hamdgha,makh 86.
47. Hamdgha,makh 74.
48. Hamdgha,makh 69.
49. Hamdgha,makh147.